# همپشېر ته ښه راغلاست

## د بې سرپرسته ماشومانو او ځوان پناه غوښتونکو لپاره نوی مالوماتي لارښود

لیکوونکې:
لېزا کلیم
متخصصه ښوونکې
د همپشېر د نژادي لږکیو او کډوالو د لاس ته راوړنې خدمت

## جنوري ۲۰۲۱

Hampshire
Services
EMTAS

## منځپانګې

ښه راغلاست ........................................................... ۳
پېژندنه ........................................................... ۴
پناه غوښتنه ........................................................... ۴
د پناه غوښتنې پروسه ........................................................... ۸
لومړۍ مرحله: د هوسايښي مرکه ........................................................... ۸
دويمه مرحله: لومړۍ ليدنه ........................................................... ۱۱
دريمه مرحله: بشپړه مرکه ........................................................... ۱۱
څلورمه مرحله: فيصله ........................................................... ۱۲
ستاسې حقونه ........................................................... ۱۵
ستاسې مسؤوليتونه ........................................................... ۱۶
کور: د اوسېدلو خوندي ځای ........................................................... ۱۸
له ساتنې کور نه وتل ........................................................... ۲۰
روغتيايي پاملرنه ........................................................... ۲۱
زده کړه ........................................................... ۲۲
ښوونځي ........................................................... ۲۳
د لوړو زده کړو کالجونه ........................................................... ۲۶
پوهنتونونه ........................................................... ۲۸
په انګلستان کې کار کول ........................................................... ۲۹
سپورټ او تفريح اسانتياوې ........................................................... ۳۲
په خپل هيواد کې د کورنۍ او ملګرو سره اړيکه نيول ........................................................... ۳۲
د هغو کورنيو غړو موندل چې تاسې ترې جلا شوي ياست ........................................................... ۳۳
د يو بې سرپرسته ايتوپيايي پناه غوښتونکي ماشوم تجربې ........................................................... ۳۴
ګټورې اړيکې ........................................................... ۳۷
د پناه غوښتونې اړونده دفتر (هوم افيس) ........................................................... ۳۷
د انګلستان د تبعه کيدو په اړه مالومات ........................................................... ۳۷

د حقوقي/او د پناه غوښتنې اړونده مسلو په هکله وړیا سلا .. ۳۷
په خپله خوښه بیرته خپل هېواد ته د ستنېدو لپاره مرسته تر
لاسه کول........................................................ ۳۹
د مرستې تر لاسه کولو لپاره ټیلیفوني اړیکه – که چا سره خبرې
کول غواړئ ........................................................ ۳۹
د ښوونځي اړونده مسلو په هکله مرسته تر لاسه کول........ ۳۹
لوړو زده کړو ته د لاس رسي په هکله سلا تر لاسه کول ..... ۴۰
که چیرې تاسې د خپل ورځني ژوند او یا د یو بې سرپرسته پناه
غوښتونکې ماشوم/ځوان په توګه سوالونه لرئ: ............... ۴۱
که چیرې تاسې د خپل دود پالونکو خلکو او ډلو سره اړیکې نیول
غواړئ............................................................ ۴۱
د خپلې کورنۍ د غړو موندلو لپاره مرسته تر لاسه کول ....... ۴۲
که چیرې تاسې انګلستان ته قاچاق شوي یاست............... ۴۲
د نظر غوښتنه.................................................... ۴۴

# ښه راغلاست

د پیړیو راهیسې همپشېر د ټولې نړۍ خلکو ته د اوسېدلو لپاره ښه راغلاست ویلی دی. تاسې همپشېر ته ځکه راغلي یئ چې د خپل هېواد پرېښودلو ته اړ شوي يئ. تاسې په خپل هېواد کې ستر شوي يئ او خپله کورنۍ او ملګري مو هلته پرېښودي دي.

مونږ هيله لرو چې په همپشېر کې به تاسې سره هر څوک مرسته وکړي تر څو تاسې دلته نوی ژوند پيل کړئ. بيا به تاسې په خپل وار سره زمونږ د هېواد په ښيرازۍ کې خپله ونډه واخلئ. دغه لارښود ستاسې سره د مرستې لپاره چمتو شوي دی. د دغه لارښود د لا ښه والي لپاره مهرباني وکړئ خپل نظرونه ما ته، خپل ټولنيز کارکوونکي، ښوونکو ته په ښوونځي يا کالج کې و واياست. ستاسې نظرونه به د هغو نورو ځوانانو سره مرسته وکړي چې دا لارښود لولي.



جان کوګلن
عمومي رئيس
د همپشېر سيميزه اداره

# پېژندنه

که چیرې ستاسې عمر د ۱۸ کلونو نه کم وي او تاسې پرته د کوم بالغ د مرستې انګلستان ته راغلي یاست، تاسې د یو بې سرپرسته پناه غوښتونکي ماشوم په توګه پېژندل کیږئ. دغه لارښود په انګلستان کې ستاسې د ژوند کولو لپاره لارښونه کوي. لارښود لاندې مالومات لري:

- د پناه غوښتنې پروسه
- ستاسې حقونه
- کور
- زده کړه
- روغتیا
- کار
- د ملګرو سره، په خپل هېواد کې د کورنۍ سره، د هغو په ګډون چې تاسې ور نه جلا شوي یاست، اړیکې نیول
- د یو اېتوپیایې بې سرپرسته ماشوم د تجربو په هکله
- د هغو سازمانونو په هکله مالومات چې تاسې سره مرسته کولي شي.

# پناه غوښتنه

د یوه بې سرپرسته ماشوم په توګه تاسې هم باید د یو بالغ په څېر د پناه غوښتنه وکړئ. کېدای شي دا غوښتنه تاسې انګلستان ته د را رسېدلو سره سم په هوایې ډګر کې، یا په واټر لو ټرین سټېشن کې وار له مخې د کډوالۍ امر نه کړې وې. که چیرې تاسې دا غوښتنه یو له دغو پورته ښودل شوو ځایونو کې کړې وې تاسې بیا د سرحدي پناه غوښتونکي په

توګه پېژندل کېږئ. که چيرې تاسې دا غوښتنه د کډوالۍ امر نه په لومړي سر کې، کله چې تاسې انګلستان ته راغلي وئ، نه وي کړې، دا ځکه چې تاسې ممکن غير قانوني راغلي وئ. تاسې بيا هم کولای شئ چې د کورنيو چارو وزارت (هوم آفيس - Home Office ) د پناه غوښتنې د مرکزونو نه د پناه غوښنته وکړئ. همپشېر ته د پناه غوښتنې نږدې ځای لاندې دی:

هوم آفيس (Home Office)
Lunar House,
40, Wellesley Road,
Croydon.
CR9 2BY.

اېمېل: mailto:cromenquiries@homeoffice.gov.uk
کاري وختونه: دوشنبه – جمعه
سهار ۱۰:۰۰ – ماسپښين ۳:۰۰ بجو پورې

که چيرې تاسې دلته د پناه غوښتنه وکړئ، تاسې ته به بيا د هېواد دننه پناه غوښتونکی وايي.

د پناه غوښتنې په مهال اړينه ده چې زر تر زره حقوقي مشوره تر لاسه کړئ. کېدای شي ستاسې ټولنيز کارکوونکي ستاسې لپاره وکيل تعيين کړې وي. که چيرې يې وکيل نه وي تعيين کړې، تاسې کولای شئ چې د کډوال شورا د ماشومانو لپاره د مشورې پروژې له لارې وکيل تعيين کړئ. د سازمان پته:

کډوال شورا (Refugee Council)
د ماشومانو لپاره د مشورې پروژه

(Children’s Advice Service),
115 High Street,
Croydon.
CR0 1QG

ټیلیفون   شمېره: ۰۲۰۷۳۴۶۱۱۳۴

کاري وختونه: دوشنبه – جمعه

سهار ۹:۰۰ – مازدیګر ۵:۰۰ بجو پورې

ایمیل: children@refugeecouncil.org.uk

هغوی تاسې سره د وکیل په تعیین  کولو کې مرسته کولای شي. وکیل به ستاسې د پناه غوښتنې په ټوله پروسه کې تاسې سره مرسته وکړي. دغه حقوقي مشوره وړيا ده.

د کډوال شورا د حقوقي مشورو ورکولو لپاره وکیلان لري دفتر لري. تاسې کولای شئ د خپل ساتونکي سره هلته لاړ شئ او د پناه غوښتنې د پروسې په هکله مالومات تر لاسه کړئ. تر ټولو نږدې د کډوال شورا دفتر په پورټسمت کې دی چې د هرې بلې چهارشنبې ورځ د پناه غوښتنې په هکله حقوقي مشورې ورکوي. د سازمان او پته ټیلیفون:

Highbury College
Tudor Cres, Cosham
Portsmouth
PO6 2SA
ټیلیفون شمېره: ۰۲۰۷۳۴۶۱۱۳۴(نوکریوال امر)

اوسمهال د کورونا وایرس (کویډ-۱۹) له امله دغه سازمان یوائې په مجازي (انلاین) بڼه مرستې کوي.

ساوتهمټن د کډوالو لپاره د ښاري ژوند زده کړې او عمل په نوم یو غیر دولتي سازمان CLEAR (City Life Education and Action for Refugees) لري. دا سازمان پناه غوښتونکو او کډوالو ته مشوره ورکوي. دغه سازمان د مشورې ورکولو دنده لري. د سازمان پته:

James Street Centre (main office)
2 James Street
Southampton
SO14 1PJ

ټیلیفون شمېره: ۰۲۳۸۰۲۲۱۱۱۱

**ایمیل:** reception@clearproject.org.uk

**ویبپاڼه:** http://www.clearproject.org.uk/

د کورونا وایرس له امله د کلیر مشاورین یوائې د سې شنبې او پنج شنبې په ورځو کې کار کوي. که مو مشورې ته اړتیا وي، په دغه شمېره ۰۲۳۸۰۲۲۱۱۱۱ ورسره اړیکه ونیسئ، د خپل نوم او د اړیکې شمېرې سره پیغام پرېږدئ. تاسې سره به یو څوک اړیکه ونیسي.

د سرې میاشتې سازمان د ځوانو کډوالو لپاره په پورټسمت Portsmouth کې هم خدمتونه وړاندې کوي.

که چیرې غواړئ مالومه کړئ چې څه ورسره شته او کاري وختونه یې کوم دي، د پورټسمت د سرې میاشتې سره اړیکه ونیسئ:

اېمېل: PortsmouthReferrals@redcross.org.uk

ټیلیفون شمېره: ۰۲۳۹۲۸۹۴۲۱۵

# د پناه غوښتنې پروسه

د پناه نوې غوښتنې باید په ۳۵ ورځو کې فیصله شي. محکمې ته د استیناف عرض کولو پروسه باید په ۱۱۵ ورځو کې تر سره شي. ګر چې اوسمهال فیصلې ډېر وخت نیسي. نو ستاسې غوښتنلیک به خورا ډېر وخت ونیسي. د دې په هکله لاندې وضاحت ورکړل شوي دی. تا سره به تل یو بالغ کس موجود وي، یو ژباړونکی او که اړتیا وي ستاسې وکیل هم. پناه غوښتنه څلور مرحلې لري:

## لومړۍ مرحله: د هوساینې مرکه

دا هغه لنډه مرکه ده چې زیاتره وخت په کرایډن (Croydon) کې تر سره کېږي. ګر چې یو شمېر پناه غوښتونکې د دې مرکې لپاره نورو ځایونو ته لېږدول کېږي. د کورنیو چارو وزارت (هوم افیس) لیک تاسې ته د مرکې ځای در شیي . ساتونکی به ستاسې سره مرسته وکړي ترڅو تاسې هغه ځای ته په خپل وخت ورسېږئ. ستاسې مرکه کې به دا لاندې مالومات شامل وي:

- ستاسې د پناه غوښتنلیک په هکله لومړني مالومات غواړي، لکه ستاسې نوم، عمر او څرنګه انګلستان ته راغلی یې. که چیرې تاسې

د خپل عمر د تثبیت لپاره سند ونه لرئ، مؤظف ټولنیز کارکوونکی به ستاسې عمر تعیین کړي. که چیرې مؤظف ټولنیز کارکوونکی ونه توانیږي چې دا جوته کړي چې ستاسې عمر د ۱۸ کلونو نه کم دی، ستاسې د عمر په سر جنجال رامنځ ته کیږي. دا په دې مانا چې تاسې ادعا کړې چې ستاسې عمر د ۱۸ کلونو کم دی، خو سند نه لرئ چې خپل عمر تثبیت کړئ. نو مؤظف ټولنیز کارکوونکی داسې انګیرې چې ګواکې ستاسې عمر د ۱۸ کلونو نه زیات دی. د هوساینې مرکې وروسته د ټولنیز ې ساتنې سازمان باید په ۲۵ ورځو کې ستا د عمر په هکله فیصله وکړي. که چیرې تاسې د دغې فیصلې نه خوښ نه وئ، کولای شئ چې محکمې ته عرض وکړئ، خو د دې لپاره باید تاسې پوره شواهد ولرئ.

- ستاسې ګوته لګول او عکس اخیستل. دا کار به د هغه بالغ کس په وړاندې تر سره کیږي چې د کډوالۍ سازمان پورې تړاو ونه لري. دا بالغ کیدای شي ستاسې ټولنیز کارکوونکی او یا وکیل وي.
- تاسې ته به یوه پوښتن پاڼه، چې د بیان د شهادت فورمې په نوم یادیږي، در کړل شي. ستاسې حقوقي وکیل به دغه فورمه ډکوي او ستاسې له لورې به یې لیږي. دا کار باید په ۲۰ ورځو کې دننه تر سره شي.
- د انګلستان د ویزې او کډوالۍ اداره به تاسې ته غوښتنلیک راجیستر کارت در کړي. دا کارت ثابتوي چې تاسې د پناه غوښتنلیک ورکړی دی. کارت به داسې وي:




(د کارت مخ)




(د کارت شا)

که چیرې د هوساینې مرکې نه وروسته تاسې کارت زر تر لاسه نه کړئ، د خپل ټولنیز کارکوونکي، ساتونکي او یا حقوقي وکیل (استازي) نه وغواړئ چې ستاسې کارت تعقیب کړي.

د هوساینې مرکې وروسته به په یو څو ورځو کې ستاسې د پناه غوښتنې لپاره به د کډوالۍ کارکوونکی وټاکل شي. دا کس (چې ورته کیس اونر وايي) د هوم آفیس کارکوونکی به وي او ستا د پناه غوښتنلیک د ټولې پروسې دنده به په غاړه ولري. تاسې کولای شئ چې د خپلې پناه غوښتنې لپاره نر یا ښځینه کارکوونکې وغواړئ.

## دویمه مرحله: لومړی لیدنه

دا به لومړی ځل وي چې تاسې د خپل کیس اونر سره ناسته کوئ. دا ناسته به د هوساینې مرکې نه یو څو ورځې وروسته تر سره شي. په ناسته کې به ستاسې کیس اونر لاندې مالومات در کوي:

- د پناه غوښتنې پروسه در ته تشریح کوي
- ستاسې د راتلونکې بشپړې مرکې په هلکه نېټه در کوي (دریمه مرحله وګورئ)
- تاسې سره د وکیل په تعیین کولو کې مرسته کوي، که چیرې مو وار له مخه نه وي تعیین کړی.

## دریمه مرحله: بشپړه مرکه

بشپړه مرکه باید د لومړی مرکې نه تقریباً یو اونۍ وروسته دایره شي. په مرکه به تاسې نه د هغو دلیلونو په هکله وپوښتل شي چې تاسې یې له مخې په انګلستان کې د پناه غوښتنه کوئ. وروسته له دې چې تاسې د مرکې پاڼې لاسلیک کړې، یوه کاپي به یې تاسې ته در کړي.

## څلورمه مرحله: فیصله

دا چې ایا تاسې به بریالی کېږئ او یا څرنګه، ستاسې د پناه غوښتنې فیصله باید په ۳۵ ورځو کې دننه و شي. خو فیصله کول تر دې هم زیات وخت نیسي. زیاتره وخت به ستاسې کیس اونر په خپله تاسې ته د فیصلې په هکله ووایي.

څلور ډوله فیصلې دي چې کیس اونر یې ستا د پناه غوښتنې په هکله کوي:

۰۱ دوی ممکن تاسې د منل شوي کډوال اوسېدلو اجازه نامه درکړي. دا په دې مانا چې تاسې په انګلستان کې د ۵ کلونو لپاره اوسېدلی شئ، لږ تر لږه تر هغه چې تاسې اوولس نیم کلن شئ. د پنځو کلونو په بهیر کې هوم آفیس کولای شي چې ستاسې د دوسیې (کیس) بیا کتنه وکړي تر څو دا جوته کړي چې ایا تاسې اوس هم د پناه غوښتلو وړ یاست. که چیرې ۵ کاله وروسته ستاسې په حالاتو کې بدلون رامنځ ته نه شي، نو تاسې کولای شئ چې د دایمي اوسېدلو اجازه نامې لپاره غوښتنلیک ورکړئ. دا ستاسې حق دی تر هغه چې تاسې په انګلستان کې اوسېدل غواړئ. مخکې له دې چې ۵ کاله پوره شي تاسې باید هوم آفیس ته غوښتنلیک ولېږئ.

۰۲ کېدای شي هوم آفیس ستاسې پناه غوښتنه رد کړي، خو کېدای شي تاسې ته د بشري خوندیتوب له مخې د اوسېدلو اجازه نامه در کړي. د ا ځکه چې کېدای شي تاسې د یوه کډوال شرطونه نه وي پوره کړي. خو که چیرې تاسې خپل هېواد ته ستانه شئ هلته به د ځورونې سره مخامخ شئ. دوی ممکن تاسې ته د بشري خوندیتوب اجازه نامه درکړي. دا په دې مانا چې تاسې په انګلستان کې د ۵ کلونو لپاره اوسېدلی شئ، لږ تر لږه تر هغه چې تاسې اوولس نیم کلن شئ. د ۵ کلونو په بهیر کې هوم آفیس کولای شي چې ستاسې د کیس بیا کتنه وکړي تر

ځو دا جوته کړي چې ایا تاسې اوس هم د بشري خوندیتوب د اجازه نامې وړ یاست. که چیرې ۵ کاله وروسته ستاسې په حالاتو کې بدلون رامنځ ته نه شي، نو تاسې کولای شئ چې د دایمي اوسېدلو اجازه نامې لپاره غوښتنلیک ورکړئ. دا ستا حق دی تر هغه چې تاسې په انګلستان کې اوسېدل غواړئ. مخکې له دې چې ۵ کاله پوره شي تاسې باید هوم آفیس ته غوښتنلیک ولیږئ.

۰۳ کېدای شي هوم آفیس ستاسې پناه غوښتنه رد کړي او د بې سرپرسته پناه غوښتونکي ماشوم په توګه د اوسېدلو اجازه نامه در کړي. دا ځکه چې کېدای شي چې تاسې به د کډوالو شرطونه نه وي پوره کړي. خو هوم آفیس سره دا اندېښنه شته که چیرې تاسې بیرته خپل هېواد ته ستانه شئ هلته به ستاسې د خوندیتوب او د ساتلو په اړه ستونزې وي. د بې سرپرسته پناه غوښتونکي ماشوم د اوسېدلو اجازه نامه د ۳۰ میاشتو پورې ده، یا لږ تر لږه تر هغه چې تاسې اوولس نیم کلن شئ. یا ستاسې د اوسېدلو د اجازه نامې موده ختمېدو ته نږدې شي، تاسې کولای شئ چې د مودې د غځېدلو لپاره غوښتنلیک هوم آفیس ته ولیږئ

۰۴ کېدای شي هوم آفیس ستاسې پناه غوښتنه او د بې سرپرسته کوچني پناه غوښتونکي په توګه د اوسېدلو اجازه نامې دواړه رد کړي. دا ځکه چې کېدای شي هوم آفیس په دې قانع شوي وي چې که چیرې تاسې خپل هېواد ته ستانه شئ  هلته به خوندي وئ او ساتنه به مو وشي.

که چیرې تاسې د خپل کیس اونر د فیصلې نه خوښ نه وئ، تاسې حق لرئ چې د کډوالۍ لومړۍ درجې محکمې ته د خپل کیس د فیصلې په هکله عرض وکړئ. ستاسې وکیل به تاسې ته دا سلا در کړي چې ستاسې د کیس د بریالي کېدو لپاره څومره چانسونه لرئ تر څو عرض وکړئ.

وکیل به ستاسې د کیس د لېږد لپاره اړین سندونه برابروي او بیا یې (د کډوالۍ او پناه غوښتنې لومړۍ درجې محکمې) ته په وخت سره رسوي. تاسې ته به تر هغې  د اوسېدلو اجازه درکړل شي تر څو چې ستاسې ستاسې پر عریضې فیصله نه وي شوې. کېدای شي دا ۶ اوونۍ ونیسي او له هغې هم زیات وخت ونیسي. زیاتره د استیناف محکمې په نیو پورټ کې دایرېږي، او کېدای شي په نورو ځایونو کې هم دایرې شي. د هوم آفیس استیناف غوښتنې لیک به تاسې ته ځای او نیټه در وښیي. ستاسې ساتوونکی به تاسې هغه ځای ته په وخت سره ورسوي.

که چیرې ستاسې استیناف غوښتنه رد شي، تاسې بیا کولای شئ چې خپل هېواد  ته په خپله خوښه د بیرته ستنېدو لپاره د هوم آفیس نه مرسته تر لاسه کړئ.

**په خپله خوښه د بیرته ستنېدو لپاره خذمت**
(Voluntary returns service)
ټیلیفون  :  ۰۳۰۰۰۰۴۰۲۰۲
کاري وختونه: دوشنبه – جمعه
سهار:  ۹:۰۰ – مازدیګر ۵:۰۰ بجو پورې
ویبپاڼه:
https://www.gov.uk/return-home-voluntarily/apply

که چیرې تاسې په خپله خوښه بیرته خپل هېواد ته ستانه نه شئ، هوم آفیس به مو ولېږي.

که چېر ستاسې استناف غوښنته بریالۍ شوه، تاسې ته به د منل شوي کډوال اجازه نامه درکړي. تاسې کولای شي چې د ۵ کلونو لپاره په انګلستان کې واوسېږئ او بیا وروسته د دایمي اوسېدلو اجازه نامې لپاره غوښتنلیک هوم آفیس ته ولېږئ. تاسې ته به د سفر کولو لپاره اجازه

نامه (ټرېول ډاکومېنټ) در کړي. پرته له خپل هېواد نه نور تاسې هر چیرې سفر کولای شئ. په راتلونکي کې تاسې د انګلستان د تابیعت د تر لاسه کولو لپاره غوښتنلیک هوم آفیس ته لېږلی شئ. د برتانوي تابعیت د لاس ته راوړلو په هکله د زیاتو مالوماتو لپاره دغه لینک ته لاړ شئ:

ویبپاڼه: https://www.gov.uk/becoming-a-british-citizen

# ستاسې حقونه

تاسې حقونه لرئ. کله چې ستاسې د پناه غوښتنې کیس تر پروسې لاندې وي او یا تاسې ته پناه در کړل شي، تاسې د لاندې حقونو مستحق یاست:

- په یو خوندي ځای کې د یو بالغ کس سره اوسېدنه چې ستاسې د ساتنې مسؤولیت په غاړه اخلي.
- خواړه، د غاړې جامې، او د ژوند کولو لپاره اړین توکي لکه د ښوونځی/کالج توکې.
- روغتیایي پاملرنه که چیرې تاسې ورته اړتیا لرئ. د ملي روغتیا خدمت ته لاس رسی لکه ډاکټران، روغتونونه، د غاښونو او سترګو ډاکټران.
- په سیمیز ښوونځي یا کالج کې زده کړې
- په پوهنتون کې لوړې زده کړې کول په هغه صورت کې چې تاسې د منل شوي کډوال اجازه نامه ولرئ یا د اوسېدلو دایمي اجازه نامه ولرئ. په پوهنتون کې مو د نورو برتانوي وګړو په څېر د زده کړې لپاره اړین شرطونه پوره کړي وي. (په پوهنتون کې د زده کړې په مقابل کې یو څه اندازه فیس ورکول).
- په انګلستان کې د کار کولو حق.

که چیرې تاسې د کومو خدمتونه نه خوښ نه وئ، تاسې کولای شئ چې شکایت وکړئ. د بیلګې په توګه، که چیرې ستاسې استوګنځی سم نه وي او د دې کبله مو ساتونکي ته خبر ورکړی وي او هغه کوم ګام نه وي پورته کړي، نو تاسې کولای شئ چې بل ځای ته د کډه کیدو غوښتنه وکړئ.

## ستاسې مسؤولیتونه

تاسې هم مسؤولیتونه لرئ. کله چې تاسې په انګلستان کې اوسیږئ، تاسې باید زمونږ د قانونونو او دود درناوی وکړئ. ستاسې د خپل هیواد او زمونږ د انګلستان هیواد په قانونونو او دود کې توپیر شته.

په انګلستان کې د عمر د توپیر په پام کې نیولو سره تاسې ته د یو شمیر شیانو تر سره کولو اجازه شته. د یو شمیر هغو څو شیانو لیست چې پر تاسې اغیز لري، لاندې دي:

- د کوچني موټرسایکل چلول (under 50cc): ۱۶ کلن (لایسنس ته اړتیا شته).
- د موټرسایکل یا موټر چلول: ۱۷ کلن (لایسنس ته اړتیا شته).
- د شرابو اخیستل په شرابه خانه او یا دکان کې: ۱۸ کلن (د پیژند کارت یا اي ډي په ښودلو سره)
- شراب خانې ته پرته د بالغ کس نه تلل د شپې تر ۹ بوجو پورې: ۱۴ کلن (د شرابو اخیستل منع دي، خو غیر الکولي شربتونه او ډوډۍ اخیستلو اجازه شته)
- په شرابه خانه کې د ډوډۍ سره شراب څښل په هغه صورت کې چې بالغ کس در سره وي: ۱۶ کلن (د یو بیر، واین یا سیدار اجازه شته)

- جنسي اړيکې نيول: ۱۶ کلن (په قانوني ډول د ۱۳ کلنو نه کم عمره سره جنسي اړيکې نيول، آن تر دې که هغه کس تاسې سره په خپله خوښه يو ځای کيږي، په زوره زنا ګڼل کيږي)
- د سيګرېټ اخيستل : ۱۸ کلونه
- واده کول: ۱۶ کلن خو د مور و پلار په خوښه، يا ۱۸ کلن چې د مور و پلار خوښې ته اړتيا نه شته.
- په بس او ټرين کې په ارزانه بيعه سفر کول: تر ۱۶ کلونو پورې (۱۶ کلن او پورته کس بايد ټيکټ ولري او يا د ريل کارت ولرئ چې تاسې پرې په ارزانه بيعه په ټرينونو کې سفر وکړی شئ)
- خپلواکه ژوند: لږ تر لږه ۱۶ کلن او د ۱۱ ټولګي نه او يا د هغه معادل ښوونځي نه فارغېدل (مؤظف مامور به ستا د خپلواکه اوسېدلو په هکله تا سره مرکه وکړي. هغه به ستا د خپلواکه اوسېدلو په هکله فيصله کوي او تاسې ته به ووايي چې ايا ستاسې خپلواکه اوسېدل مناسب دي او که وي په کوم عمر کې)
- له نسخې پرته درمل اخيستل: دا په هر عمر کې غير قانوني دي
- د يو چا په مقابل کې د سلاح ګواښ او کارولو او يا زور زياتی: دا په هر عمر کې غير قانوني دي

کېدای شي د انګلستان او ستاسې د خپل هېواد په ټولونو کې د ښځو په رول کې توپیر وي. په انګلستان کې نر او ښځې مساوي حقونه لري. تاسې بايد په انګلستان کې د ښځو درناوی وکړئ. دا ځکه په ځانګړی ډول مهمه ده چې کېدای شي تاسې به په کور کې ښځېنه ساتونکې ولرئ (د دې په هکله په راتلونکی برخه کې تفصيل ورکړل شوي دی) په انګلستان کې ښځې د کور څېښتنې دي او دوی سره بايد هيڅ توپیري چلند ونه شي. که چيرې دوی د نر سره اوسېږي او يا نر يوائې اوسېږی. هغه ځای کې چې نر او ښځه ګډ اوسيږي بايد يو ځای کورني کارونه وکړي. تاسې نه تمه کيږي چې بايد د کور په کارونو کې فعاله ونډه واخلئ. دا کار د ښو

اخلاقو بیلګه ده چې تاسې د کور په کارونو کې ونډه واخلئ. که چیرې تاسې د خپل ساتونکی درناوی نه کوئ. ستاسې رویه کې بدلون نه راځي آن تر دې چې په دې هکله تاسې سره خبرې هم شوي وي. ستاسې ساتونکی حق لري چې د ماشومانو خدمتونو ادارې ته شکایت وکړي او هغوی ته خبر ورکړي چې نور نه غواړي تاسې وساتي. که چیرې داسې وشي، تاسو ته به وار له مخه وویل شي او تاسې به بل استوګنځای ته ولیږي. ځینې وختونه داسې کېدای شي چې تاسې د همپشېر کومې بلې برخې ته ولیږي او یا د انګلستان کوم بل ځای ته.

# کور: د اوسېدلو خوندي ځای

کله چې تاسې د پناه غوښتنه وکړه، هوم آفیس به ستا په هکله د ماشومانو خدمتونو سیمیزې ادارې ته خبر ورکړي. دا د حکومت مسؤولیت دی چې هغه ماشومان چې کوم بالغ کس ونه لري، ساتنه یې وکړي. د ماشومانو خدمتونو اداره به تاسې ته د اوسېدلو خوندي ځای او د ژوند نور هغه شیان چې تاسې ورته په انګلستان کې اړتیا لرئ، چمتو کړي. تاسې ته به یو ټولنیز کارکوونکی تعیین وي. هغه به ستا د ټولو ورځینو اړتیاوو د پوره کولو مسؤولیت ولري. دې ته ځینې وختونه، تر پالنې لاندې ماشوم او یا د چا سره ساتل کېږي، په نومونو نومول کېږي.

کېدای شي تاسې یو ساتونکي ته وسپاري. دغه کس ته د ماشومانو د خدمتونو ادارې له لورې معاش ورکول کېږي تر څو هغه ماشومانو چې سرپرست ونه لري، د ځان سره وساتي. تاسې به د هغه د کورنۍ د غړي په توګه اوسېږې. هغه معاش چې ستاسې ساتونکی اخلي، ستاسو په اساسي اړتیاوو به یې مصرفوي، لکه ډوډۍ، د غاړې جامې، د تشناب لوازم، ټرانسپورټ، قلم/پنسل د ښوونځي لپاره. په دې معاش کې به ستا

د ساعت تیرۍ لپاره لکه سینما ته تګ هم شامل وي. د ساعت تیرۍ ډولونه او شمېر لکه سینما ته تګ او داسې نور به د ساتونکي له لورې تعیین  کېږي. کېدای شي ساعت تیرۍ لپاره هره کورنۍ بېلا بېل پروګرامونه ولري. کېدای شي که کوم تنکي ځوان د کوم بل ساتونکی سره اوسېږي هغه کورنۍ به هغه ته د ساعت تیرۍ بل ډول پروګرامونه لري. تاسې کولای شي چې خپل ساتونکي نه غواړي چې کوم ډول ساعت تیرۍ خوښوئ. خو دا هغه پورې اړه لري چې کوم ډول ساعت تیرې در ته چې ممکنه وي برابره کړې. دا ځکه چې هغه څه چې ته يې تل غواړي ممکن نه وي. مهمه دا ده چې په دې تاسې پوه شي چې هغه پیسې چې ستا ساتونکي تر ورکول کېږي، هغه یواځې ستا اساسي اړتیاوو لپاره دي، نه دا چې د لکس ژوند د تېرولو لپاره ترې کار واخلي کوم ته چې تاسې اړتیا نه لرئ. ځینې ساتونکي به تاسې ته د اونۍ جیب خرڅ در کوي او تاسې کولای شئ چې په خپله خوښه يې مصرف کړئ. یو شمېر ساتونکي به دا کار ونه کړي. دا ځکه چې ټولې هغه پیسې چې تاسې ته منظور شوي دي، کېدای شي ستاسې په اساسي اړتیاوو مصرف شوي وي.

ستا سره باید دا ویره نه وي چې د خپل ساتونکي نه وپوښتئ چې هغه څه چې تاسې ورته اړتیا لرله نه يې دې چمتو کړي. خو تاسې باید یواځې هغه څه وغواوئ چې اړین دي. ساتونکي اړ نه دي چې تاسې ته لکس شیان واخلي.

ستاسې ساتونکي ته به ستا په اړه مالومات ورکړل شوي وي. لکه د کوم ځای یاست په کومو ژبو خبرې کوئ او مذهب مو څه دی. دا کار د دې لپاره کېږي ترڅو تاسې هغو اړتیاوو ته لاس رسی ولرئ چې ستا د دود سره تړاو لري. د بیلګې په توګه، یو څه هغه خواړه چې ته يې نه شي خوړلی، کوم ډول جامې غواړې او یا هغو ځایونو ته د تګ اړتیا لری چیرې چې عبادت کېږي. که چیرې تاسې ځانګړې اړتیاووې لری یعنې عبادت کوئ او هغه تاسې ته نه وې چمتو شوي، پوښتنه يې وکړئ. د

ماشومانو خذمتونو اداري تر خپلې وسې هڅه کوي تر څو ماشومان هغو کورنیو کې میشت کړي چیرې چې د دوی دود سره ورته وي. خو دا کار تل ممکن نه دی ځکه په همپشېر کې داسې ساتونکې لږ دي چې د نورو پرګنیو نه وي.

که چیرې په هغه ځای کې چې ته اوسېږې خوښ نه وې، نو لومړی د خپل ساتونکي سره خبرې وکړه. که چیرې ستونزه حل نه شوه، د ټولنیز کارکوونکي سره خبره وکړه. هغه به په هماغه وخت حاضر نه وي چې تاسې سره سمدستي خبرې وکړي. کېدای شي ماښام وي او یا هم رخصتي. نو تاسې باید صبر وکړئ. تاسې کولای شئ چې بل ځای کډه شئ په هغه صورت کې چې تاسې ډېر نا خوښ اوسئ او ساتونکي سره مو د ستونزې د حل لپاره کوښښ کړی وي.

که چیرې تاسې د ۱۶ او ۱۸ کلونو تر منځ وئ، نو تاسې ته به ساتونکې کورنۍ پر ځای بل استوګنځای درکړل شي. هلته به ستا سره په اوسېدلو کې مرسته وشي. هلته به تاسې خپلواک ژوند ولرئ او کوم بالغ کس به در سره نه وي. خو هلته به هم تاسې سره مرسته بالغ کسان کوي. که چیرې تاسې دغسې استوګنځای ته اړتیا ولرئ او ستاسې ټولنیز کارکوونکی داسې احساس وکړي چې تاسې ورته اړتیا لرئ. هغه به په دې هکله تاسې سره خبرې وکړي.

## له ساتنې کور نه وتل

د ماشومانو خذمتونو اداره به تاسې سره تر ۲۱ کلنۍ پورې خپلې مرستې دوام ورکړي. که چیرې تاسې زده کړې کوي او روزنې لاندې وئ، تاسې سره به تر هغه مرسته کیږي تر څو چې نه وئ فارغ شوي. یو ستر بدلون دا دی چې کله تاسې ۱۸ کلن شوئ، دا ستاسې د کډوالۍ په حالت پورې

ترلی، تاسې کولای شئ چې نغدې مرستې او کور لپاره مرستندویه ادارې ته مراجعه وکړئ. کله چې تاسې ۱۸ کلنۍ ته نږدې کیږئ، ستاسې ټولنیز کارکوونکی به د هغو بدلونونو په هکله چې را منځ ته کیږي تاسې ته ووایي. هغه به تاسې سره د فورمو په ډکولو کې مرسته وکړي.

## روغتیایي پاملرنه

تاسې د هر ډول هغو روغتیایي پاملرنو مستحق یاست چې د ملي روغتیا خذمت ادارې له لارې وړاندې کیږي. تاسې به د روغتیایي خذمت په مقابل کې پیسې نه ورکوئ. د ملي روغتیا خذمت اداره عامه روغتیایي پاملرنه وړاندې کوي. تاسې د برتانوي وګړو په څېر د روغتیاي خذمتونو مستحق یاست. د روغتیایي خذمت ادارې له لارې تاسې لاندې روغتیایي خذمتونه تر لاسه کولای شئ:

- ډاکټر (چې ورته جي پي وايي) ستا د روغتیایي ستونزو په هکله تاسې سره سلا کوي. ستا او د جي پي تر منځ ټولې خبرې محرمې دي.
- هغه نسخو ته چې درملو تر لاسه کولو لپاره ورته اړتیا لرئ – جي پي به تاسې ته نسخه (یوه ځانګړې ټوټه د کاغذ) درکړي. هغه به تاسې فارمسۍ ته یوسئ تر څو درمل پرې واخلئ. تاسو به د درملو تر لاسه کولو لپاره پیسې نه ورکوئ.
- نرس به تاسې سره د وړو روغتیایي ستونزو، په شمول د جنسي روغتیا، په هکله سلا در کوي.
- سلا/ذهني روغتیایي خذمتونه – که چیرې تاسې په خپل هېواد کې صدمې سره مخامخ شوي وئ، یو روزل شوي کس به تاسې

سره خبرې وکړي. د نورو ستونزو په هکله به هم تاسې سره خبرې وکړي.

- د غاښونو ډاکټر
- د سترګو ډاکټر – د سترګو وړيا معاينه او عينکې
- روغتونونه، په شمول د ټکر او بيړنۍ پيښې

د دغو خذمتونو د لاس ته راوړلو لپاره به ستاسې ټولنيز کارکوونکی يا ساتونکی تاسې سره مرسته وکړي. که چيرې تاسې د کتنې په وخت کې ژباړونکی ته اړتيا ولرئ، ستاسې ټولنيز کارکوونکی به د اړونده خذمتونو وړاندې کوونکي ته ووايي. هغوی به تاسې ته ژباړونکی چمتو کړي.

# زده کړه

نظر په عمر سره، تاسې په ښوونځي يا کالج کې تر ۱۹ کلونو پورې د وړيا زده کړې کولو مستحق ياست. په هغه صورت کې چې تاسې د يو منل شوي کډوال اجازه نامه تر لاسه کړي وي. په پوهنتون کې د نورو برتانوي وګړو په څېر زده کړې کولای شئ. دا موده تر ۲۱ کلونو غځېدل کېږي او آن تر هغه وړاندې (په پوهنتون کې د زده کړې په مقابل کې يو څه فيس ورکول کېږي).

تاسې به هغه ښوونځي يا کالج کې زده کړې کوئ چې ستاسې کور ته ډېر نږدې وي. تاسې به د خپلو همزولو ماشومانو سره يو ډول زده کړې کوئ. د انګلستان او ستاسې د خپل هېواد په زده کړو کې به يو څه توپير وي. دا توپيرونه لاندې ښودل شوي دي:

# ښوونځي

- په انګلستان کې د ۵ نه تر ۱۶ کلونو پورې په ټولو زده کړې کول اجباري دي.
- د ۱۶ کلونو نه وروسته تاسې کولای شئ چې خپلو زده کړو ته په کالج کې دوام ورکړئ. هر کس باید د اکاډیمیک کال تر پایه او یا هم دا چې ۱۸ کلن شې، زده کړې او یا روزنه وکړي.
- د ۵ - ۱۱ کلونو عمر لرونکو ماشومان ښوونځي ته لومړنی ښوونځي وايي. ځينې وختونه د ۵ نه تر ۷ کلونو عمر لرونکو ماشومانو او د ۷ نه تر ۱۱ عمر لرونکو ماشومانو لپاره جلا جلا ښوونځي وي. چې يو ته يې د وړې رتبې او بل ته يې د لوړې رتبې ښوونځې وايي.
- د ۱۱ - ۱۶ کلونو عمر لرونکو زده کونکو ښوونځيو ته ثانوي ښوونځي وايي. ځينې ښوونځې کالج هم لري چې د ۱۶- ۱۸ کلونو عمر لرونکي شاګردان لري.
- زياتره ښوونځي د سيميزې دولتي ادارې له لورې تمويل کيږي. دوی ته ساتل شوي ښوونځي وايي. يو شمېر يې د مرکزي دولت له لورې تمويليږي. خو په خپلواکه توګه خپلې چارې په مخ وړي. دغو ښوونځيو ته اکاډمي او يا وړيا ښوونځي وايي. ساتل شوي، اکاډمي او وړيا ښوونځي ټول وړيا شاګردان مني.
- په انګلستان کې نور ښوونځي هم شته چې فيس اخلي. دغو ښوونځيو ته شخصي ښوونځي وايي.
- زياتره ښوونځي د هلکانو او نجونو لپاره دي خو يو شمېر بيا يواځې هلکان يا نجونې مني (ډېری ثانوي ښوونځي)
- ځينې ښوونځي ځانګړي مذهب پورې تړاو لري لکه کاتو هليک ښوونځي، د انګلستان د چرچ ښوونځي.
- زياتره ښوونځي يونيفورم لري.

- تاسې به د خپل عمر سره سم ګروپ کې شامل کېږئ. ستاسې د تېر وخت زده کړې او تجربې په نظر کې نه نیول کېږي نه دا چې څومره تاسې په ځینو مضمونونو کې لایق یاست یا څومره ښه په انګلیسي ژبه پوهېږئ.
- کله چې زده کوونکي ۱۶ کلن شي، په ۱۱ ټولګي کې د GCSE ازموینه لري چې ورته (د ثانوي ښوونځي زده کړې سند وایي). زیاتره زده کوونکي ۱۰ مضمونونه لري. دغه وړتیاوې ډېرې اړینې دي. کله چې له ښوونځي فارغېږي، شاګردان د دغو وړتیاوو په مټ کولای شي چې کالج ته لاړ شي او یا په انګلستان کې د ښوونځي نه د فارغېدو په وخت کې دنده ترلاسه کړي.
- د GCSEs زده کړو بدیل هم شته. د بېلګې په توګه، BTECs. ستاسې ښوونځی به تاسې ته ووایي چې کومې وړتیاوې او څومره تاسې لپاره ښې دي تر څو یې تعقیب کړئ.

د بده مرغه ځینې وختونه د همپشېر په ښوونځیو کې څورونې او توکمیزې پیښې رامنځ ته کېږي. په هر صورت، دا د منلو وړ چلند نه دی او په جدي توګه یې مخنیوی کیږي. څورونې او توکمیزه چلند ډېره ناخوښي رامنځته کوي. که چیرې تاسو سره داسې وه شي، نو تاسو باید زر تر زره یو ښوونکی ته راپور ورکړئ. که چیرې ستونزه حل نه شوه، هرومرو ښوونکي د ستونزې د شتون نه خبر کړئ. داسې سازمانونه شتون لري چې تاسو کولای شئ د څورونې یا توکمیزو پیښو په اړه یې خبر کړئ:

- چاېلډ لاین (Childline) : دغه ټیلیفوني اړیکه هره ورځ ۲۴ساعته پرانیستی وي. تاسې کولای شئ چې د یو مسلکي سلا کار سره د هر څه په هکله خبرې وکړئ.
  ټیلیفون شمېره: ۰۸۰۰۱۱۱۱
  ویبپاڼه: www.childline.org.uk

- کېډسکیپ (Kidscape) : یو سازمان دی چې د ځورونې په هکله مشوره ورکوي.
  ویبپاڼه: www.kidscape.org.uk

په انګلستان کې په ښوونځیو کې هره ورځ عبادت کېږي چې ځینې وختونه ور ته ډله ایز عبادت وايي. په لویه کې دا ښوونځي عیسوي مذهبي دي. د عبادت دغه مراسم د را غونډېدو په مهال یا ټول ښوونځی، یا د ښوونځي یوه برخه، لکه د ټولګي ډله چې سره یو ځای شي، ترسره کېږي. کېدای شي د ټولګي ښوونکي له لوري په لومړني ښوونځي کې او یا د مشر ښوونکی له لورې په ثانوي ښوونځي کې تر سره شي. که چیرې تاسې د کوم بل مذهب پیروان یاست، تاسې حق لرئ چې په عبادت کې برخه وا نه خلئ. تاسې باید د خپل ټولګي ښوونکی یا مشر ښوونکي ته خبر ورکړئ چې تاسې ډله ایز عبادت نه غواړئ.

که چیرې تاسې ځان ته او یا نورو شاګردانو سره ډله ایز عبادت کول غواړې، ښوونځی تاسې ته د عبادت کولو لپاره ځای در کوي. دا ځای کېدای شي د ټول کال لپاره او یا هم د ځانګړې مودې لپاره در کړي، لکه د روژې میاشتې لپاره.

که چیرې تاسې د ښوونځي نه وروسته عبادت کول غواړئ، ستاسې ټولنیز  کارکوونکی او یا ځانګړی سلاکار به در ته د عبادت هغه ځایونه وښیي چې ستاسې کور سره نږدې وي.

د مهمو مذهبي مراسمو لکه اختر د لمانځلو لپاره تاسې مستحق یاست چې د ښوونځي نه رخصت واخلئ (عموماً د یو مراسم لپاره د یوې ورځې رخصتۍ مستحق یاست) تر څو وکولای شئ خپل عبادت کې برخه واخلئ.

# د لوړو زده کړو کالجونه

د لوړو زده کړو کالجونه بېلا بېل کورسونه لري. ځينې يې اکاډيميک دی يعنې د GCSE A Levels په کچه د شاګردانو سويې لوړوي. د دغو سندونو په مټ شاګردان پوهنتون ته لار مومي. نور کورسونه مسلکي دی(هغه مهارتونه چې د ځانګړو دندو لکه د موټر تخنيک (مستريتوب، وېښتانو جوړول) لکه NVQs (ملي مسلکي ورتياوې) او GNVQs (عمومي ملي مسلکي سندونه). ځينې مسلکي کورسونه زده کوونکي د پوهنتون تللو ته چمتو کوي. د انګليسي ژبې د زده کولو لپاره کورسونه (د نورو ژبو ويوونکو لپاره انګليسي، ESOL) شته. تاسې کولای شئ چې هر هغه کورس چې ستاسې خوښ وي غوښتنليک ورکړئ. خو ځينې کورسونه د منلو لپاره يو شمېر شرطونه لري چې شاګرد يې بايد پوره کړي.

کېدای شي دا کورسونه د بشپړ وخت يا نيم وخت لپاره وي. داسې کېدای شي نيم وخت کار او نيم وخت زده کړه وکړئ.

په هغه صورت کې چې تاسې د منل شوي کډوال اجازه نامه يا مو د بشري خونديتوب اجازه نامه او يا هم د بې سرپرسته پناه غوښتونکي ماشوم د اوسېدو اجازه تر لاسه کړي وي، ستاسې لپاره د کالج او د لوړو زده کړو کالجونه وړيا دي. په هغه صورت کې چې تاسې د ۱۶ – ۱۸ کلونو په عمر ياست او د هوم آفيس فيصلې ته منتظر ياست، کولای شئ چې کورسونو کې وړيا زده کړه وکړئ. که چيرې مو عمر د ۱۸ کلونو نه پورته وي، تاسې بايد د زده کړې په مقابل کې فيس ورکړئ.

ځانګړي سازمانونه شته چې تاسې ته د لوړو زده کړو په هکله سلا در کړي. د دغه سازمان پتې:

د ماشومانو حقوقي مرکز کورم (Coram Children’s Legal Centre)
Wellington House
4th Floor
90-92 Butt Road
Colchester
CO3 3DA

لندن دفتر (London Office)
Coram Children's Legal Centre
Coram Community Campus
41 Brunswick Square
London
WC1N 1AZ

د ماشومانو حقوقي مرکز د ایمېل له لارې وړیا حقوقي مرسته وړاندې کوي. دا مرکز د ځوانو کډوالو سره مرستې کوي تر څو حقونو او لوړو زده کړو ته لاس رسي ولري.دا مرکز د لوړو زده کړو او فیسونو په هکله اینټرنیټي اړونده مالوماتي مواد لري.

ایمېل: mcpadvice@coramclc.org.uk
ویبپاڼه:
https://www.childrenslegalcentre.com/resources/higher-education-refugees-migrants/

کډوال شورا (Refugee Council)
د ماشومانو مشورې پروژه
Christopher Wren Yard,

115 High Street,
Croydon,
CR0 1QG

ایمېل: children@refugeecouncil.org.uk

ټیلیفون  ي اړیکه: ۰۲۰۷۳۴۶۱۱۳۴
د اړیکې لپاره کاري وخت: دوشنبه – جمعه
سهار ۹:۰۰ – مازدیګر ۵:۰۰ بجو پورې

# پوهنتونونه

که چېرې ۱۸ کلن شوئ، تاسې کولای شئ چې د پوهنتون یا لوړو زده کړو کولو لپاره غوښتنه وکړئ. د زده کړو لپاره د عمر شرط نه شته. تاسو به د داخلی اړتیاوو پوره کولو ته اړتیا ولرئ. دا به پوهنتون پورې اړه ولري او د کورس ډول چې تاسو یې کول غواړئ. کالج یا د لوړو زده کړو کالج به تاسو ته ووايي چې څرنګه غوښتنلیک ورکړئ او کوم ورتوبونو ته اړتیا لرئ. دوی به تاسو ته د بېلابېلو پوهنتونونو په اړه معلومات در کړي. دوی به تاسې ته د هغې فاکولتې په هکله چې پوهنتونونه یې وړاندې کوي او تاسې یې لېوالتیا لرئ، در سره مرسته کوي تر څو خپل غوښتنلیک وړاندې کړئ.

که چېرې تاسې د اوسېدلو دایمي اجازه نامه ولرئ، تاسې به د نورو برېتانوي محصلینو په څېر د فیس په هلکه یو ډول شروطونه ولرئ. که چېرې تاسې د بې سرپرسته پناه غوښتنې ماشوم په توګه یا د بشري خوندیتوب د اوسېدلو اجازه نامه ولرئ، ستاسې د مالي مرستې په اړه به

دولت په انفرادي ډول فیصله کوي. که چیرې ستا استیناف غوښتنې حقونه پای ته رسېدلی وي، نو بیا تاسې ته د پوهنتون د شاملیدلو لپاره مالي مرسته نه ور کول کېږي.

## په انګلستان کې کار کول

که چیرې تاسې پناه غوښتونکی یاست او د پناه غوښتنې فیصلې ته منتظر یاست، تاسې ۶ میاشتې وروسته کار کولای شئ. خو عمر مو باید ۱۳ کاله وي. تاسې باید د کار اجازه ولرئ. تاسې باید د هوم آفیس نه د کار د اجازې لپاره په خپله غوښتنه وکړئ.

که چیرې تاسې ته د منلي شوي کډوال اجازه نامه، بشري خوندیتوب او یا د یو بې سرپرسته پناه غوښتونکی ماشوم اجازه نامه درکړل شوي وي او ۱۳ کلن یاست، تاسې په انګلستان کې د کار کولو مستحق یاست. د کار کولو اجازې تر لاسه کولو ته اړتیا نه لرئ.

د کار کولو لپاره مقررات شته. په قانون کې د څومره ساعتونو او د کار کولو وخت په هکله وضاحت ورکړل شوي دی. دغه مقررات که په تاسې عملي کېږي په هغه صورت کې که چیرې تاسې ۱۶ کلن یاست او یا تر هغې کم او ښوونځي ته ځئ. دا مقررات د دې لپاره وضع شوي تر څو د کار کولو له امله ستاسې زده کړې اغېزمنې نه شي او دا چې څو ساعتونه باید کار وکړئ.

### ۱۳ – ۱۴ کلن

- د لنډ مهاله رخصتۍ په مهال تاسې په اونۍ کې ۱۲ ساعته او په رخصتۍ کې ۲۵ ساعتونو پورې د کار کولو اجازه لرئ.

- تاسې د سهار د ۷ بجو نه مخکې او د ماښام د ۷ بجو نه وروسته کار نه شئ کولای.
- د ښوونځي د جريان په وخت کې تاسې د ورځې ۲ ساعته کار کولای شئ. يوازې يو ساعت کار مخکې له ښوونځي نه.
- د شنبې په ورځو کې تاسې ۵ ساعته کار کولای شئ.
- د يکشنبې په ورځو کې تاسې ۲ ساعتونه کار کولای شئ.
- د ښوونځي د رخصتيو په مهال تاسې ۵ ساعته کار کولای شئ، خو دا بايد په اونۍ کې د ۲۵ ساعتونو نه زيات نه شي.

## ۱۵-۱۶ کلن

- د لنډ مهاله رخصتۍ په مهال تاسې په اونۍ کې ۱۲ ساعته او په رخصتۍ کې ۳۵ ساعتونو پورې د کار کولو اجازه لرئ.
- تاسې د سهار د ۷ بجو نه مخکې او د ماښام د ۷ بجو نه وروسته کار نه شئ کولای.
- د ښوونځي د جريان په وخت کې تاسې د ورځې ۲ ساعته کار کولای شئ. يوازې يو ساعت کار مخکې له ښوونځي نه.
- د شنبې په ورځو کې تاسې ۸ ساعته کار کولای شئ.
- د يکشنبې په ورځو کې تاسې ۲ ساعتونه کار کولای شئ.
- د ښوونځي د رخصتيو په مهال تاسې ۸ ساعته کار کولای شئ، خو دا بايد په اونۍ کې د ۳۵ ساعتونو نه زيات نه شي.

په انګلستان کې لږ تر لږه د کار اجوره د هغو لپاره چې ۱۶ کلن وي او يا يې عمر له هغه پورته او د ښوونځي د پريښودلو عمر ته رسېدلی وي، تعيين  شوي ده. (ستاسې د ښوونځي د پريښودلو عمر د جون مياشتې په اخيرې جمعې کې پوره کېږي. تاسې به د اوړي رخصتۍ په پای کې ۱۶ کلن کېږي). کار ورکوونکي بايد تاسې ته تعيين  شوي اجورې نه لږ در نه کړي. د ۱۶ – ۱۷ کلنو لپاره اوسنۍ اجوره په ساعت کې ۴:۵۵ پونډه ده

همدارنګه د ۱۸ – ۲۰ کلنو لپاره اوسنۍ اجوره په ساعت کې ۶:۴۵ پونډه ده (د اپرېل میاشتې ۲۰۱۹ کال کې به دا اجوره ۶.۱۵ پونډو ته پورته شي). ښايي اجوره هر کال بدله شي.

که چیرې تاسې د ۱۶ کلونو عمر لرئ او یا له هغه پورته وئ، تاسې ملي بیمې شمیرې (نېشنل انشورنس) نمبر ته اړتیا لرئ. دا تاسې د دې جوګه کوي چې په انګلستان کې کار وکړئ او دولتې مرستې ترلاسه کړئ.

ټولنیز کارکوونکی به تاسې سره د نېشنل انشورنس نمبر په اخیستلو کې مرسته وکړي په هغه صورت کې که چیرې تاسې ۱۶ کلن یاست او یا مو عمر پورته وي او تاسې یې د اخیستلو مستحق یاست. د نېشنل انشورنس نمبر د ترلاسه کولو لپاره باید تاسې د منل شوي کډوال اجازه نامه، بشري خوندیتوب او یا د بې سرپرسته پناه غوښتونکي ماشوم اجازه نامه ولرئ. که چیرې ستاسې پناه غوښتنې باندې ۶ میاشتې تیرې شوې وي او تاسې لا ځواب نه وي تر لاسه کړي، تاسې د نېشنل انشورنس نمبر د تر لاسه کولو لپاره وړ یاست. د دې سره به تاسې د کار اجازې ته هم اړتیا لرئ. که چیرې ستاسې د اوسېدلو اجازه نامه یعنې یو له دغو پورتنیو حالتو له لارې مو تر لاسه کړې او د ۶ میاشتو نه مخکې راغلي وي، تاسې د نېشنل انشورنس نمبر د سمدستې تر لاسه کولو مستحق یاست او د کار اجازه نامې ته هم اړتیا نه لرئ.

ستاسې نېشنل انشورنس نمبر به د شمیرو او لیکونو مخلوط وي، د بیلګې په توګه، QQ 12 34 56 A. دا به تاسو ته یو لیک کې درلیږل کیږي او تاسو یې باید خوندي وساتئ.

# سپورټ او تفریح اسانتیاوې

په همپشبر کې ډېری ځایونه شتون لري چیرې چې تاسې کولای شئ د سپورټ په فعالیتونو یا نور تفریحی فعالیتونو کې برخه واخلئ. زیاتره لوی ښارونه تفریحي مرکزونه لري. تاسې کولای شئ په خپل فارغ وخت کې ورشئ. دغه ځایونو د اوونۍ په جریان او د اونۍ په پای کې د ورځې او ماښام کې پرانیستي وي. دغه ځایونو کې لامبو، فوټبال، ټېنس، بېډمېنټن، سکواش، جودو، یوګا او داسې نور فعالیتونه تر سره کېږي. ډېری یې د جېم وسایل هم لري. تاسې کولای شئ چې د خپل ساتوونکي او یا د ټولنیز کارکوونکي نه وپوښتئ چې کوم ځایونه تاسې ته نږدې دي. تاسې هم کولای شئ چې د ګوګل په کارولو سره نږدې ځایونه پیدا کړئ. په دغو مرکزونو کې فعالیتونه د پیسو په مقابل کې دي.

د همپشبر په ډېرو سیمو کې د ځوانانو کلبونه شته او تاسې کولای شئ چې په خپل فارغ وخت کې د ګډون لپاره ور شئ. زیاتره وخت دغه کلپونه د ماښام په مهال او په ځانګړو ورځو د اونۍ کې پرانیستي وي. زیاتره دغه کلپونه د ځوانانو له لورې اداره کېږي. د ساعت تیرۍ او ټولنیز فعالیتونه د ځوانانو له لورې دایرېږي. ستاسې ساتونکي او یا ټولنیز کارکوونکی به تاسې سره مرسته وکړي تر څو د ځوانانو نږدې کلبونه در ته وښيي.

# په خپل هیواد کې د کورنۍ او ملګرو سره اړیکه نیول

عامه ټیلیفون ځایونه پیسې یا پیسې لرونکي کارتونه مني. د عامه ټیلیفون ځای نه اړیکه نیول ډېره ګرانه ده. که چیرې غواړئ خپل هېواد

سره اړیکه ونیسئ، نو ښه دا ده چې نړیوال ټیلیفون کارت واخلئ. تاسې دا کارتونه هر چیرې په دوکانونو کې اخیستلی شئ. د دوکانونو په کړکیو کې د دغو کارتونو په هکله تجارتي اعلانونو ته وګورئ.

تاسې کولای شئ چې د عامه ټیلیفون، انټرنیټ کافیانې، او یا د عامه کتابتونونو له لارې ایمېلونه واستوئ. (خو تاسې باید په کتابتون کې لومړی ځان شامل کړئ. ستاسې ساتونکي او یا ټولنیز کارکوونکي به تاسې سره مرسته وکړي.)

تاسې ته به یو موبایل ټیلیفون در کړي چې د هغې به تاسې د عامه ټیلیفون په ځای وکاروئ. د خپل ټولنیز کارکوونکي سره خبرې وکړئ چې دا غوراوي شته. ځینې وختونه د موبایل په کارولو د امنیتي اندېښنو له امله بندیز وي. ستاسې ټولنیز کارکوونکي به تاسې ته و وایي چې ایا تاسې د دغه بندیز لاندې یاست.

## د هغو کورنیو غړو موندل چې تاسې ترې جلا شوي یاست

که چیرې ستاسې اړیکه د خپلې کورنۍ سره پرې شوې وي او غواړئ چې اړیکه ورسره ونیسئ، د سرې میاشتې (Red Cross) په نوم سازمان تاسې سره مرسته کولای شي. د سرې میاشتې سازمان د ورکوو کسانو لټه کوي. دغه سازمان هغو خلکو ته چې ډېر لرې وي او یا هم بند کې وي پیغامونه رسوي. تاسې د دغه سازمان د یو نږدې دفتر سره چیرې چې تاسې اوسیږئ اړیکه نیولی شئ. که چیرې تاسې په همپشېر کې اوسیږئ، د سرې میاشتې نږدې پته لاندې ده:

پورټسمت سرې میاشتې دفتر
Portsmouth Red Cross,
338 Commercial Road,
Portsmouth
PO1 4BT

کاري ورځې : سه شنبه، چار شنبه او د پنج شنبې ورځې
سهار ۹:۰۰ – مازدیګر ۵:۰۰ بجو پورې

ټیلیفون شمېره: ۰۲۳۹۲۸۹۴۲۱۴

اوسمهال، دا خذمت د ټیلیفون له لارې تر سره کېږي او دفتر ته د تللو اړتیا نشته.

## د یو بې سرپرسته ایتوپیایي پناه غوښتونکي ماشوم تجربې

زه د ایتوپیا اوسېدونکی یم. زه ۱۶ کلن یم. زما مور د ایریتریا ده او زما پلار د ایتوپیا دی. زه د مور و پلار یو اولاد یم. کله چې زه پنځه کلن وم نو زما مور پې د ایتوپیا او ایریتریا ترمنځ د جګړې له امله بیرته ایریتریا ته واستوله. ما بیا هغه ونه لیدله. زه د خپل پلار او نیا سره اوسېدم.

کله چې زه 8 کلن وم، زما پلار ورک شو. زما په آند هغه دولت د دې امله وواژه چې هغه په سیاست کې دخیل و. خو ما دا هیڅکله جوته نه شوه کړای چې هغه ته څه پیښ شوه.

کله چې زه ۱۴ کلن وم، زما نیا مړه شوه. ما هیڅوک نه درلود چې ور سره واوسېږم. پولیس زما د پلار د سیاسي فعالیتونو په هکله زما نه پوښتنې ګرویګنې وکړي، هغوی ما ته ګواښونه وکړه او زه یې د پولیسو په حوزه کې ۵ ورځې وساتلم.

ما فیصله وکړه چې ایتوپیا نور زما لپاره د اوسېدو خوندي ځای نه دی. دا ځکه چې هلته خطر و او هیڅوک نه وه چې زه یې ساتلی وم. زما تره ما ته وویل که چیرې تاسې د خپل نیا کور خرڅ کړئ او هغه پیسې ما ته راکړئ نو زه به تاسې پرې انګلستان ته واستوم. زه ډېر ویریدلی وم او داسې مې انګېرله چې ګواکې بله لار نه لرم، نو ما ورسره هوکړه وکړه

ما په جعلي پاسپورټ فرانسې ته سفر وکړ. بیا زه د نورو ډیرو پناه غوښتونکو سره په لارې کې سپور شوم او د چینل تونل له لارې انګلستان ته راغلم. لارۍ په وینچیسټر کې ودرېده او مونږ ټول ترې را ښکته شوو. د لارې ډرېور د لارۍ شا پرانیسته او ټول یې ولیدو او پولیس یې خبر کړه. زه یې د پولیسو حوزې ته بوتلم. زه ډیر ویریدلی وم او نه پوهېدم چې څه روان وه. پولیس ډېر مهربان وو، ما ته یې ډوډۍ او څښاک راکړه، کمبله یې راکړه او ما لومړۍ شپه د پولیسو په حوزه کې وکړه. آن تر دې چې دوی زما نه وپوښتل چې کوم ډول خواړه خورم. ما ور ته وویل چې زه مسلمان یم. دوی ما ته حلال خواړه چمتو کړه.

سهار پولیسو د ټیلیفون له لارې د یو ژباړونکي په مټ له ما نه ځینې پوښتنې وکړي. وروسته بیا پولیسو په بیړني ډول یو ټولنیز کارکوونکی او ژباړونکي ما ته را وغوښتل. زه ډېر ویریدلی وم او نه مې غوښتل چې سوالونه وکړم. خبر نه وم چې زه حقونه لرم. ژباړونکي را ته وویل چې ته حقونه لري خو را ته یې تشریح نه کړه. هغې زه ډاډمن کړم.

ټولنیز کارکوونکي زما لپاره بیړنی استوګنځای چمتو کړ. زه د یوې انګلیسې کورنۍ سره اوسېدم. ما روغتیایي کتنې د عمومي ډاکټر، د غاښونو ډاکټر، او سترګو ډاکټر سره تر سره کولي. زما ساتونکي ما ته د غاړې جامې او نور اړین توکي چې ما ورته اړتیا لرله اخیستل. زه د دې نه ویریدم چې د ساتونکي نه ډېر څه و نه غواړم. دا ځکه چې ما فکر کاوه چې هغه یې ما ته د خپل جیب نه اخلي. خو وروسته پوه شوم چې هغې ته دا ټولې پیسې دولت ور کولي. ما په یو سیمیز ښوونځي کې زده کړې پیل کړي او هغه څه چې زه یې حیران کړم نژادي توکمیز چلند و چې زه ورسره مخامخ شوم.

زما ټولنیز کارکوونکي ما ته یو حقوقي وکیل تعیین کړ تر څو زما د پناه غوښتنې پروسه مخکې یوسي. وکیل ما ته د پناه غوښتنې په هکله تشریح راکړه. ما سره د کډوالي امر د یو ژباړونکي په مټ مرکه وکړه. هغه یو څو فورمې ډکې کړي او را ته یې وویل چې فیصله به ډېر وخت ونیسي.

زه د خپل ساتونکي او د هغې د کورنۍ سره خوښ نه وم. هغه زما د دود سره بلده نه وه. زه یې نه پرېښودم چې د هغه یې سرپرسته پناه غوښتونکي ماشوم سره چې په لندن کې اوسېده او ما سره یو ځای په لارۍ کې انګلستان ته راغلی و، ور سره وګورم. وروسته بیا د پالنې لاندې ماشومانو لپاره د بشري حقونو کارکوونکي ما سره وکتل. هغه ما ته زما د زیاتو حقونو په هکله وویل. په ځانګړي ډول هغه حقونه چې له مخې یې ما کولای شول چې زه ساتونکي بدل کړم او د خپلو ملګرو سره په لندن کې اړیکه ونیسم. هغه زه نوي ساتونکي ته واستولم. هلته زه ډېر خوښ وم سره د دې چې نژادي توکمیز چلند په نوي ښوونځي کې هم شتون درلود.

یو کال وروسته زما پناه غوښتنه رد شوه. ما استیناف غوښتنه وکړه. ما د ۲ حقوقي وکیلانو سره سلا وکړه. یو یې د ایتوپیا و چې زما د ملګري وکالت یې پخوا کړي و. ما ایتوپیایي وکیل تعیین کړ. زما د استیناف

غوښتنه بریالی شوه او زه اوس په انګلستان کې چې څومره وغواړم، اوسېدلای شم.

# ګټوري اړیکې

## د پناه غوښتونې اړونده دفتر (هوم افیس)

هوم آفیس (Home Office)
Lunar House,
40, Wellesley Road,
Croydon.
CR9 2BY.
ویبپاڼه: mailto:cromenquiries@homeoffice.gov.uk

کاري ورځې: دوشنبه – پنجشنبه
سهار ۱۰:۰۰ – مازدیګر ۳:۰۰ بجو پورې

## د انګلستان د تبعه کېدو په اړه مالومات

ویبپاڼه: https://www.gov.uk/british-citizenship

## د حقوقي/او د پناه غوښتنې اړونده مسلو په هکله وړیا سلا

د کډوالو لپاره د ښارې ژوند زده کړې او عمل سازمان (CLEAR) مرکزي دفتر

James Street Centre (main office)
2 James Street
Southampton
SO14 1PJ

ټیلیفون شمېره: ۰۲۳۸۰۲۲۱۱۱۱
اېمېل: reception@clearproject.org.uk
ویبپاڼه: http://www.clearproject.org.uk/

کاري وختونه:
سه شنبه او پنج شنبه ورځې

د ماشومانو لپاره د مشورې پروژه
(Children's Advice Service)
کډوال شورا (Refugee Council)
115 High Street,
Croydon.
CR0 1QG

ټیلیفون شمېره: ۰۲۰۷۳۴۶۱۱۳۴
کاري وختونه: دوشنبه – جمعه
سهار ۹:۰۰ – مازدیګر ۵:۰۰ بجو پورې
اېمېل: children@refugeecouncil.org.uk

د پورټسمت سره میاشت Portsmouth Red Cross
اېمېل: PortsmouthReferrals@redcross.org.uk
ټیلیفون شمېره: ۰۲۳۹۲۸۹۴۲۱۵

## په خپله خوښه بیرته خپل هیواد  ته د ستنیدو لپاره مرسته تر لاسه کول

په خپله خوښه خپل هیواد ته د ستنیدو خذمت
(Voluntary returns service)
ټیلیفون   شمیره: ۰۳۰۰۰۰۴۰۲۰۲
کاري وختونه: دوشنبه – جمعه
سهار ۹:۰۰ – مازدیګر ۵:۰۰ بجو پورې
ویبپاڼه:
https://www.gov.uk/return-home-voluntarily/apply

## د مرستې تر لاسه کولو لپاره ټیلیفوني اړیکه – که چا سره خبرې کول غواړئ

چایلډ لاین(Childline) :ټیلیفون شمیره: ۰۸۰۰۱۱۱۱  (وړیا)
ویبپاڼه: www.childline.org.uk

## د ښوونځي اړونده مسلو په هکله مرسته تر لاسه کول

د همپشیر د نژادي لګکیو او کډوالو د لاس ته راوړنې خذمت
(Hampshire Ethnic Minority Achievement Service)
Dame Mary Fagan House,
Chineham Court,
Lutyens Close,
Basingstoke,
Hampshire.
RG24 8AG

ټیلیفون شمېره: ۰۳۷۰۷۷۹۴۲۲۲
ویبپاڼه:
https://www.hants.gov.uk/educationandlearning/emtas

## لوړو زده کړو ته د لاس رسي په هکله سلا تر لاسه کول

د ماشومانو حقوقي مرکز کورم (Coram)
Wellington House
4th Floor
90-92 Butt Road
Colchester
CO3 3DA

لندن دفتر (London Office)
Coram Children's Legal Centre
Coram Community Campus
41 Brunswick Square
London
WC1N 1AZ

اېمېل: mcpadvice@coramclc.org.uk

د ماشومانو مشورې پروژه
(Children's Advice Service)
کډوال شورا (Refugee Council)
Christopher Wren Yard,
115 High Street,
Croydon,

CR0 1QG

ټیلیفون   شمېره: ۰۲۰۷۳۴۶۱۱۳۴
کاري وختونه: دوشنبه – جمعه
سهار ۹:۰۰ – مازدیګر ۵:۰۰ بجو پورې

اېمېل: children@refugeecouncil.org.uk

## که چیرې تاسې د خپل ورځني ژوند او یا د یو بې سرپرسته پناه غوښتونکې ماشوم/ځوان په توګه سوالونه لرئ:

لومړی د خپل ټولنیز کارکوونکي سره خبرې وکړئ. که چیرې هغه په خپله ونه شو کولای چې ستاسې ستونزه حل کړي، بل چا ته باید مراجعه وکړي تر څو ستاسې ستونزه حل کړي.

## که چیرې تاسې د خپل دود پالونکو خلکو او ډلو سره اړیکې نیول غواړئ

په اېستلي (Eastleigh) کې د راجني بالي چې د ټولنې د پرمختیا امر دی، اړیکه ونیسئ:

اېمېل:rajni.bali@eastleigh.gov.uk
ویبپاڼه:
https://www.eastleigh.gov.uk/our-community/supporting-our-residents/ethnic-minority-communities/associations-and-groups

په بازېنګ سټوک (Basingstoke) کې د اسلام جايليتا چې د ټولنې د پرمختيا امر دی، اړيکه ونيسئ:
اېمېل: islam.jalaita@basingstoke.gov.uk
ويبپاڼه:
https://www.basingstoke.gov.uk/ethnic-minorities

## د خپلې کورنۍ د غړو موندلو لپاره مرسته تر لاسه کول

پورټسمت سرې مياشتې دفتر
Portsmouth Red Cross,
338 Commercial Road,
Portsmouth.
PO1 4BT
02392 894214

کاري وختونه: ، سه شنبه، چار شنبه او پنجشنبې ورځې
سهار ۹:۰۰– مازديګر ۵:۰۰ بجو پورې

ټيليفون شمېره: ۰۲۳۹۲۸۹۴۲۱۴

## که چيرې تاسې انګلستان ته قاچاق شوي ياست

د برناردس قاچاق شوي ماشوم خذمت

اېمېل: Kate.Norman@barnardos.org.uk

ويبپاڼه: https://www.barnardos.org.uk/what-we-do/protecting-children/trafficked-children

لین چیټي
د انګلستان د پاملرنې رئیس
Lynne Chitty
UK Care Director,
Love146,
P.O. Box 51700,
London
SE8 9BX

ټیلیفون شمېره: ۰۸۴۵۶۸۰۲۱۴۶
ایمیل: info@love146.org.uk

لو ۱۴۶ (Love 146) د بشري حقونو نړیوال سازمان دی. دا سازمان د ماشوم د قاچاق کولو او د هغه نه د ناوړه ګټې اخیستلو د له منځه وړلو لپاره کار کوي. او همدارنګه د قاچاق شوي ماشوم ساتنه او مخنیوی کوي.

# د نظر غوښتنه

مونږ هیله لرو چې په لارښود کې مالومات به ستاسې لپاره ګټور واقع شوي وي. مهرباني وکړئ را ته ووایئ چې د لار ښود کومې برخې ډیرې ګټورې وي. دا هم را ته ووایئ چې د لارښود په کومو برخو کې بدلون را وړو تر څو د هغو نورو بې سرپرسته پناه غوښتونکو ماشومانو لپاره چې انګلستان ته راځي، ګټور واقع شي.

خپل وړاندیزونه په لاندې پاڼه کې ولیکئ. که چیرې ډیر وړاندیزونه لرئ نو د پاڼې په شا یې ولیکئ.

د همپشیر د نژادي لږکیو او کډوالو د لاس ته راوړنو خذمت
Hampshire Ethnic Minority Achievement Service,
Dame Mary Fagan House,
Chineham Court,
Lutyens Close,
Basingstoke,
Hampshire.
RG24 8AG

په هره ژبه چې تاسې یې غواړئ، ویې لیکئ. مننه.

هغه کتور شیان چې ما د همپشېر د ښه راغلاست په لاربشود کې و موندل:

د دې د لا کتور کولو لپاره وړاندیزونه

کوم بل نظرونه چې تاسې یې غواړئ وړاندې کړئ:

ستاسې عمر:
ستاسې خپل هېواد: